مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی
+

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۴/۰۱/۰۱

د افغانستان سیاسي - تأریخي - جغرافیوي ژورنال
شپږم ټوک

۳۱۷ مه پرله پسې برخه

کابل

او د افغانستان سویل – ختیځې

ایدیت:

ډاکټر لودویګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1985

* **گربز:** ۱۷ – ۳۳، ۵۴ – ۶۹: گربز د پکتیا د ولایت یوه علاقه داري ده. دا علاقه داري ۳۸۵ کیلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمـیـر ئـې له ۶۵۶۱ څخه تر ۱۳۶۶۵ تـنو پورې چې بزګرې پرګنې دي اټکل سوی دی. دا علاقه داري له لویدیځ لوري له «تـنیو»، له شمال لویدیځ لوري له «مندوزیو»، له ختیځ لوري له «خوست» او له سویل لوري له پاکستان سره کرښه لري. گربز ۳۲ کلي لري چې ۷ کلي ئـې له ۵۰۰ ډیـر استوګن وګړي لري. لنډ مهالي مجلي دا کلي په لاندې ډول لیست کړي دي.

Mangala	منګله	Bagi Khel	باګي خیل	Izhdan (Izhnwal)		ایږدن «ایژنوال»	
تودہ چینه		غونډۍ کلی		شاهد کلی		ملایان «ملایانو کلی»	
ماشي کلی «مشر کلی»		پاد شاه کلی		غلام خان		شیخ امیر کلی «شیرګل کلی»	
زین شیره «زین ښوره»		Lagai Khel	لګي خیل	Kegai	کږي	سرګلي « سر کلی»	
ناخي خیل «ځلي خیل، منځي خیل»		Zhawaruna (Zhawar Kalai),		ژورونه «ژور کلی»		Zin Sherah (Zen Shorah)	
کخ کي «کجکي»		Shodika (Shudyak)		شودیکه «شدیاک»		Natsay Khel (Zalai Khel, Manzai Khel)	
Khandir (Khander Kalai)		خاندیر «خندر کلی»		Gulak Khel	ګلک خیل	Katskai (Kajakai)	
Kodi Khel (Kozbori Khel)		کودي خیل «کوز بوري خیل»		شیخان		میر اکبر	
Patlan	پتلن	خان کوتکي «کوتکي خان»		Bori Khel (Barbori Khel)		بوري خیل «بَر بوري خیل»	

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

Keptan Kalai	کپتان کلی	Lalizha	لالیژه	Kotkai Shaikh Amir Lashra		کوتکي شیخ امیر لشره	
Mazi	مازي	Natori	ناتوري	Balai (Barai)	بالي «بري»	Walo Kalai	والو کلی
Kod Khel	خود خیل	Nyazi Khel	نیازي خیل	Dala Kalai	دالا کلی	Zhasir Kalai	ژاسیر کلی
Nai-Shin Kalai	نای شین کلی	Narali	نرالي	Razhd Twan		رژد توان	

گوردم: [1]: ۱۹ – ۳۴، ۲۹ – ۶۷ «ن»: دا د بامیانو په ولایت کې د هلمند سیند ته نېږدې د «شیو قول کاریز» [2] سویل کې یو کلی دی.

گرگي: [3]: دا د «گزک» [4] په سویل لویدیځ کې د «شیمیلتو» [5] د سیند د غاړې په اوږدو کې یو کلی دی.

گرگي میدان: [6]: ـ ۳۴، ـ ۶۹: دا په لوگر کې د «سرخ آو – مزگین» [7] د درې په ختیځ کې یوه لویه دښته. دې دښتې کې یوه کلا سته. (آی.بي. سي) په دې نوم یو کلی د «زرغون ښار» په شمال ختیځ کې او د «رنده خیل» [8] په یو مایلۍ کې په ۱۴ – ۳۴، ۲۳ – ۶۹ «ن» کې موقعیت لري. (لودویگ آدمک)

* **گرگ کشته:** [9]: ۵۵ – ۳۳، ۵۷ – ۶۷ «ن»: دا د غزني په ولایت کې د «اوکک» (ناور) [10] په شمال کې یو کلی دی.

گرگري: [11]: ـ ۳۴، ـ ۷۰: دا د جلال آباد د ولسوالي په حصارک کې یو کلی دی چې د سپین غرۀ په شمالي ډډو کې واقع دي. استوگن وگړي: شینواري. (جنکینز)

گرسالک: [12]: ۱ – ۳۵، ۵۱ – ۷۰ «ج»: دا په کافرستان کې یو کلی دی چې د ۱۲۰ کورونه لري او د «پرسن گل» [13] د سیند د کیڼې غاړې په اوږدو کې د «چغه سرای» [14] په تقریباً ۲۹ مایلۍ کې واقع دی. دلته د اړتیا وړ توکي پریمانه تر لاسه کیدای سي. (آی. بي. سي)

گذاره: گذره: [15]: گزاره: گذره: دا د کابل – هزاره جاتو- دولت یار د سړک د غاړې په اوږدو کې یو کلی دی. (وگورئ: د هزاره جاتو په هکله پوځي راپور: دوهمه برخه)

گذرگاه: گزر گاه: ۳۰ – ۳۴، ۷ – ۶۸ «ج»: دا د چاردهي په درې کې یو کلی دی چې د کابل د سیند په دواړو غاړو کې د دهمزنگ د سویل په ۲/۱ – ۱ مایلۍ کې موقعیت لري. د گزرگاه دا دواړه برخې د یوۀ تینگ له خښتو جوړ پلۀ په

---

1 -GURDUM
2 -Shewqol Karez
3 -GURGI
4 -Gazak
5 -Shemeltu river
6 -GURGI-MAIDAN
7 -Surkhao -Mazgin
8 -Randa- khel
9 -GURG KUSHTA
10 -Okak (Nawur)
11 -GURGURI
12 -GURSALAK
13 -Presungul
14 -Chigha Sarai
15 -GUAZARA

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وسیلي وصل سوي دي، دا پل په کافي اندازې پراخ دی چې صحرايي توپونه وربانديې په آسانه تـېـريدای سي. د سيند په ښۍ غاړه کې استوګن وګړي تاجيکان دي؛ د سيند په کيڼه غاړه کې استوګن وګړي قزلباشان او سيدان دي. تاجيکان له ۳۰۰ تر ۴۰۰ کورنۍ او قزلباشان او سيدان تقريباً ۲۰۰ کورنۍ دي. (آی. بي.سي)

گذر مامه خاتون: گزر ماما خاتون: [16]: ـ ۳۴، ـ ۶۹: دا د کابل په کوهدامن کې د «بابه قشقار» [17] او «قلعۀ مرادبيگ» [18] تر منځ يو کلی دی. دا کلی ۱۵ کلاګانې او تقريباً ۴۰۰ کورونه لري. استوګن وګړي: تاجيکان، «ريکا» [19]، غلزي او څو د سيکهانو سوداګرو کورونه. (آی. بي. سي)

*ګواشته: وګورئ: غواشته

* **حبيب کلی**: [20]: ۲۷ ـ ۳۲، ۳۷ ـ ۶۷ «ن»: دا د آبِ ايستاده په لويديځ کې او د قلات غلزايي د سرک په ختيځ کې يو کلی دی.

هـده: ۲۲ ـ ۳۴، ۲۹ ـ ۷۰ «ن»: [21]: دا د جلال آباد د ولسوالي د چپرهار په علاقه دارۍ کې د جلال آباد د سويل په تقريباً ۶ مايلۍ کې يو کلی دی. دا د ډېـرې لويې سوداګرۍ ځای دی او د مهمندو تقريباً ۴۰۰ کورنۍ په کې استوګنې دي. دا ځای په دې شهرت لري چې پخوا دلته «نجم الدين» اوسيدۀ چې په عام ډول د «هده ملا»[22] په نوم يادېـږي چې د شينوارو په منځ کې ئـې ډېـر ځواک درلود او تل د برتانويانو دښمن پاتې سوی وو. د هدې ملا شاګردان لکه مير صاحب جان بادشاه اوس دلته اوسېـږي. (آي. بي. سي) اوسنۍ نقشې د «ادې» [23] نوم ښيي. (لودويګ آدمک)

هديه خيل: [24]: ـ ۳۴، ـ ۷۰: دا د جلال آباد د ولسوالي د چپرهار د علاقه دارۍ يو کلی دی چې د «مزينه» [25] د لويديځ په ۱۲ مايلۍ کې موقعيت لري. استوګن وګړي: شينواري. (جنکينز) اوسنۍ نقشې د «ادادخيلو» [26] په نوم ځای په ۱۶ ـ ۳۴، ۱۳ ـ ۷۰ «ن» کې ښيي. (لودويګ آدمک)

* **حافظه**: [27]: ۱۴ ـ ۳۴، ۱۲ ـ ۶۷ «ن»: دا د هلمند د سيند د يوې څانګې د غاړې په اوږدو کې په «قولِ څويته من» [28] کې يو کلی دی.

حافظ کلا: ۱۷ ـ ۳۴، ۲۲ ـ ۷۰: دا د جلال آباد د ولسوالي د چپرهار په علاقه دارۍ کې د ۹ کورونو يو کلی دی. دا کلی د چپرهار د سيند د کيڼې غاړې په اوږدو کې د «کندي باغ» [29] د لويديځ په تقريباً ۱ مايلۍ کې له «باسول» څخه تر

16 -GU ZAR- I - MAMA - KHATUN
17 -Baba Kush Kar
18 -Kala -i -Murad Beg
19 -Rikas
20 -HABIB KALAI
21 -HADA Or ADDA
22 -Hada Mulla
23 -Ada
24 -HADIA KHEL
25 -Mazina
26 -Adad khel
27 -HAFIZA
28 -Qol- i- Tsuitaman
29 -Kandibagh

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

«سفید سنگ» پورې د تللي سړک د غاړې په اوږدو کې واقع دی. له سپین غرهٔ څخه د اوبو یو کوچنی بهیر د همدې کلي له څنګه تـېـرېـږي. استوګن وګړي: غلزي. (آی. بي. سي)

حفیظ الله کلا: ـ۳۴، ـ ۶۹: دا د لوګر د سیند د کیڼې غاړې په اوږدو کې یو کوچنی کلی دی. استوګن وګړي :«آستانه زي» [30]. په ۱۸۸۰ز کال کې په دې کوچني کلي کې یوازې څو کورنیو ژوند کاوهٔ. (کلیفرډ، ایوان سمیټ)

هفت آسیا: ۵۰ ـ ۳۳، ۳۷ ـ ۶۸ «ن»: دا له غزني څخه ۲۱ مایله او له کابل څخه ۶۴ مایله لیرې، ټیټو غرونو ته نېـږدې په دیوالونو کې راتاو د ۱۰ تر ۱۲ کلیو په منځ کې د دمې نیولو ځای دی. له دې ځایه د درېو غنډونو لپاره اوبـهٔ او کافي تدارکات تر لاسه کیدای سي. د دې ځای اوبـهٔ له کاریز څخه تر لاسه کـېـږي. د اوښانو لپاره خوراک توکي او ټیټ بوټي، بوس او رشقه هم سته. استوګن وګړي: وردک. (کمپبل، آی. بي. سي)

هفت چاه: ۳۴، ـ ۷۱: دا یوه کوچنۍ ډبرینه کلا ده چې له «لنډي کوتل» څخه ۸ مایله او له «ډکي» څخه ۵ مایله لیرې واقع ده. د ۵۰ تنو خاصه دارانو یوه قرار ګاه دلته ځای پر ځای ده چې «لي مت فوردز» [31] توپک لري او د مخروطي غرهٔ پر سر چې ۱۰۰ فیټه لوړوالی لري موقعیت لري او د خیـبر د کوتل له لویدیځې منتهی الیـهٔ څخه ۱ مایل لیرې واقع ده. " هفت چاه"یا «اووهٔ څاه ګاني» چې کلا هم وربانديې نومول سوې ده له ډېـرو پخوا وختونو وچې سوې دي؛ کلا ته اوس د اوبو تر ټولو نېـږدې سرچینه ۱۰۰۰ یارډه لیرې د کلا په ختیځ کې د اوبو یوه چینه ده. همدا شان د «ګره» [32] د خط الرأس په شمالي اړخ کې د ښو اوبو یوه چینه سته؛ د همدې خط الرأس پر سر د اوښ د تګ یو کوتل د «کام ډکي» [33] لور ته تللی دی. هغه څوک چې په دې لارې ځي باید رهنما له ځان سره ولري ، ځکه په دې لارې کې څوک په آسانۍ سره تـېـروتنه کولای سي، کټ مټ هماغسې چې په ۱۸۷۹ز کال کې پـېـښ سول. (ډیل سن، آی. بي. سي)

هفت گـُـدي: [34]: ۱۹ ـ ۳۴، ۲۰ ـ ۶۷ «ن»: دا د «کوهٔ شر» [35] په سویل کې د «تګابِ سګ سوخته» [36] د غاړې په اوږدو کې یو کلی دی.

هفت کوتل: ـ ۳۴، ـ ۶۹: دا له جلال آباد څخه تر کابل پورې د لارې په اوږدو کې د «تیزین» او «خورد کابل» تر منځ یو کوتل دی. دا نوم د «اوو کوتلونو» په معنی دی خو ښاغلي «هف» [37] ۸ کوتلونه شمـېـرلي دي او وايي چې " دښمن کولای سي په ډېـر وحشتناک ډول هغه کتار ته سرخوړی رامنځته کړي چې د همدې لارې په وروستي کوزیدا کې په خوځښت کې وي ځکه دښمن کولای سي جناحي اور رامنځته کړي"، په ۱۸۴۲ز کال کې په حقیقت کې همدغـهٔ تنګي چې تقریباً ۳ مایله اوږد دی د برتانوي ځواک د قتل عام لپاره یو تمام عیاره ځای جوړ کړ چې د ناورین ځپلي هڅې په لړ کې ئـې له کابل څخه شا تګ پیل کړی وو. همدا شان د هماغـهٔ کال د سپتمبر په میاشت کې، افغانانو په تیزین کې له ماتې

30 -Astanazais
31 -Lee - Metfords
32 -Gara ridge
33 -Kam Dakka
34 -HAFT GODI
35 -Kuh -i -Shar
36 -Tagab -i -Sagsukhta
37 -Hough

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خوړلو وروسته همدلته هڅه وکړه چې ټینګ مقاومت وکړي خو د جنرال پالک د لښکر له پلوه له ستري قصابۍ وروسته تس نس سول. (آی. بي. سي)

هفت کوتل: ۲۶ ـ ۳۴، ۹ ـ ۶۸: دا د غرنیو څوکو یو مهمیز دی چې په کابل کې د «تخت ِشاه» [38] د غرۀ له سویل لویدیځ څخه راکوز سوی دی. دا مهمیز د چهاردهي دره له چار آسیا څخه جلا کوي چې د کابل سیند ئـې د «کوروغ» [39] له غرۀ څخه جلا کوي. د همدې مهمیز په شمالي لمن کې د «قلعـۀ فتو»، «ریشخورو» او «قلعـۀ علي محـمد» [40] کلي پراتـۀ دي؛ په سویلي ډډې کې ئـې «قلعـۀ ارسلا خان» واقع ده؛ او د سویلي تړانګو په ژۍ کې ئـې د چار آسیا او چهل دختران کلي پراتـۀ دي. د همدې مهمیز له پاسه تر ټولو ښه لاره له «ایندکي» [41] څخه راغلې ده چې له قلعـۀ فتو څخه مخ په لویدیځ تللې ده. خو دا لاره یوازې د کچرو د بطریو د تـېـریدلو لپاره مناسبه ده. (آی. بي. سي)

هگا: [42]: ـ ۳۴، ـ ۷۰: دا د جلال آباد په ولسوالي کې د سپین غرۀ په لمن کې یو کلی دی. دا کلی د خیـبر د کوتل او د کابل تر منځ د لارې په سویلي برخې کې واقع دی چې له کابله ۷۵ مایله لیرې دی. د دې کلي ګاونډۍ سیمه د یو شمـېـر خوړونو په اوبو خړوبېـږي چې له سپین غرۀ څخه راکوزېـږي او د خپلې طبیعي ښکلا له اړخه زښت ډیر د پام وړ ځای دی. (تورنتون)

* **هیبت**: [43]: ۸ ـ ۳۳، ۴۳ ـ ۶۸ «ن»: دا د «شاران» [44] د سویل په ۳ مایلۍ کې او په همدغـۀ نامـۀ د غرۀ په ختیځ کې یو کلی دی.

* **هیبتی**: ۴۴ ـ ۳۲، ۳ ـ ۶۹ «ن»: دا د پکتیا په ولایت کې د سروبي د سویل لویدیځ په ۴ مایلۍ کې یو کلی دی.

* **هیبت خیل**: ۵۰ ـ ۳۴، ۴۲ ـ ۶۹ «ن»: دا د تګاب د علاقه دارۍ د سویل ختیځ په تقریباً ۲ مایلۍ کې او د سروبي په شمال کې یو کلی دی. په دې نوم یو بل ځای د ګردیز په سویل لویدیځ کې په ۳۲ ـ ۳۳، ۲ ـ ۶۹ «ن» کې واقع دی.

حیدر: دا د آجرستان د پولادا/ پولاده هزاره ګانو یوه فرعي څانګه ده. (وګورئ: د هزاره جاتو په هکله پوځي راپور: دوهمه برخه)

حیدر: دا د جاغوري هزاره ګانو یوه څانګه ده. (وګورئ: د هزاره جاتو په هکله پوځي راپور: دوهمه برخه)

حیدر بیګ: دا د دای کندي یوه څانګه ده. (وګورئ: د هزاره جاتو په هکله پوځي راپور: دوهمه برخه)

حیدر خاني: ۳۶ ـ ۳۴، ۱۳ ـ ۷۰ «ن»: دا په لغمان کې د «مندراوړ» [45] د شمال په ۴ مایلۍ کې د الینګار د سیند د ښۍ غاړې په اوږدو کې یو کلی دی. د دې ښارګوټي د کلا ګانو او کوچنیو کلیو لیست په لاندې ډول دی:

38 -Takht -i -Shah mountain
39 -Korogh mountain
40 -Kalai-Fathu, Rishkhor, and Kala -i -Ali Muhammad
41 -Indaki
42 -HAGAH
43 -HAIBAT
44 -Sharan
45 -Mandrawar

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

۱	باندۀ فقیر	۸	قلعـۀ نو	
۲	قلعـۀ محـمد سعید	۹	قلعـۀ ناظر توره باز	
۳	قلعـۀ همیشه بهار	۱۰	قلعـۀ محـمد جان	
۴	باندۀ تاجو	۱۱	کراهو	Karaho
۵	قلعـۀ ایوب	۱۲	قلعـۀ شاغاسي	
۶	باندۀ علي احمد	۱۳	قلعـۀ ملایان	
۷	قلعـۀ نو	۱۴	قلعـۀ میرزا	
استوګن وګړي: تاجیکان دي			(واربرتن)	

* **حیدرخیل** :۹ ـ ۳۴، ۳۷ ـ ۷۰ «ن»: دا د کابل د سیند د یوې څانګې د غاړې په اوږدو کې د هسکې مینې او غني خیلو تر منځ یو کلی دی.

حیدر خیل: ۵۷ ـ ۳۳، ۴۲ ـ ۶۸ «ن»: لوړوالی: ۷۶۴۷ فیټه. دا له کابله ۵۴ مایله او له غزني څخه ۳۳ مایله لیرې د «تکیې» [46] په ولسوالي کې د ټیټو غرونو په منځ کې په یوې ښکلې درې کې یو کلی دی چې د لوګر د سیند د یوې څانګې په اوبو خړوبېږي؛ او شاو خوا سیمه ئې زښته ډېره کرل سوې ده. دلته د سړک په ختیځ کې یوه کلا ده ؛ د سړک په لویدیځ کې یو مایل وړاندې یو شمېر کلي دي چې ډېره کرهنه په کې سوې ده. دا کلی په بې باکۍ او زړورتیا او د غلا په مهارتونو کې شهرت لري. همدلته ول چې افغان پادشاه جوړونکی فتح خان د شاه محمود او د هغـۀ د زوی کامران په لاس ووژل سو، دا هغه جنایت وو چې د مرتکبینو غیرمتوقعه پایله ئې د سدوزیو د سلطنتي کورنۍ د پای ته رسیدلو لامل سوه. د سړک په لویدیځه غاړه کې د کمپ وهلو لپاره ښـۀ ځای سته چې د دوه ووغنډونو لپاره ځای لري ؛ د همدومره ځواک لپاره بل ځای د سړک د سویل په ۱ مایلۍ کې د حیدرخیلو او د «تکین» یا «تکیې» [47] په نوم یوۀ ځای کې سته. د سپارۀ ځواک د یوۀ غنډ او د پلي ځواک د ۳ غنډونو لپاره تدارکارت له دې ځایه تر لاسه کیدای سي. (آی. بي. سي)

حیدر خیل: ۱۹ ـ ۳۳، ۵۱ ـ ۶۹ «الف»: ۱۹ ـ ۳۳، ۵۱ ـ ۶۹ «الف»: دا د «شمیل» یا «کیتو» [48] د سیند د ښۍ غاړې په اوږدو کې د «متون» د لویدیځ په تقریباً ۱۲ مایلي کې یو کلی دی. دلته د یوې فرقې د کمپ وهلو لپاره په نا کرل سوې ځمکې کې ځای سته چې کافي اوبـۀ او تدارکات لري. (آی. بي. سي)

* **حیدر خونه**: ۲۸ ـ ۳۲، ۲۶ ـ ۶۸ «ن»: دا د «خوشامند» په سویل ختیځ کې د «وچ خوړ» په غاړه یو کلی دی.

حیدر: قول ِ حیدر: دا په هزاره جاتو کې د هلمند د سیند یو ګودر دی. (وګورئ: د هزاره جاتو په هکله پوځي راپور :دو همه برخه)

* **هجلاه**: [49]: ۴ ـ ۳۴، = ۲۱ ـ ۶۷ «ن»: دا د «پیتاقول» [50] په ختیځ کې د ګرم آب د سیند د یوې څانګې د غاړې په اوږدو کې یو کلی دی.

---

46 -Takia district
47 -Takin, or Takia
48 -Shamil, or Kaitu, river
49 -HAJELLAH
50 -Pitaoqol

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

حاجي: دا د پولادا يوه فرعي ځانګه ده. (وګورئ: د هزاره جاتو په هکله پوځي راپور :دوهمه برخه)

* **حاجي**: ۱۹ – ۳۳، ۱۴ – ۶۷ «ن»: دا د «لال چک» [51] د سويل لويديځ په يو مايلي کې د اوبو د يوۀ بهير د غاړې په اوږدو کې يو کلی دی.

* **حاجي آباد**: ۰ – ۳۵، ۲۳ – ۷۱ «ن»: دا د «بارګام» [52] د شمال په تقريباً ۳ مايلي کې د کونړ د سيند د يوې ځانګې د غاړې په اوږدو کې يو کلی دی.

* **حاجيان**: ۲۴ – ۳۴، ۴۹ – ۶۸ «ن»: دا د ميدان په ولايت کې د «کوتـــۀ اشرو» [53] (کوټ ِ عشرو- ژ) د سويل په تقريباً ۴ مايلي او د «نرخ» [54] په شمال کې يو کلی دی. په دې نوم يو بل ځای د ميدان د سيند دغاړې په اوږدو کې او د نرخ په سويل ختيځ کې په ۲۰ – ۳۴، ۵۸ – ۶۸ «ن» کې موقعيت لري.

* **حاجي بک غر**: ۱۹ – ۳۵، ۱۴ – ۷۱ «ن»: دا د کونړ په ولايت کې د «بارګام» [55] په شمال لويديځ کې يو غر دی.

حاجي بيني: دا د جاغوري هزاره ګانو په سيمې کې يوه علاقه ده. (وګورئ: د هزاره جاتو په هکله پوځي راپور :دوهمه برخه)

* **حاجي ګک**: ۴ – ۳۴، ۱۷ – ۶۷ «ن»: داد «پيتاقول» د سيمې په ختيځ کې د سيند د يوې ځانګې د غاړې په اوږدو کې يو کلی دی.

حاجي ګک: ۳۹ – ۳۴، ۵ – ۶۸ «ن»: لوړوالی: ۱۲۰۰۰ فيټه. دا د بابا په غرنۍ لړۍ کې يو کوتل دی چې د هلمند له درې څخه د باميانو پر درې ورغلی دی. له دې کوتل څخه د کابل – مزارشريف عمومي لاره (د افغانستان شمال – ختيځه لاره: شمـبـره ۳۲) د «ګردن ديوال» [56] د شمال لويديځ په تقريباً ۲/۱ – ۱۳ مايلي کې په هغـۀ ټکي کې تـبـربـرې چې سړک د هلمند د سيند له سره اوړي. کوتل ته ختل د هلمند له خوا کـبـرې، سره له دې چې لاره ستوغه ده خو بيا هم د باروړونکو څارويو د تګ لپاره عملي ده؛ د باميانو لور ته کوزيدل زښت ډېـر شيوه دي خو پرته له دغه شيوه والي نوره لاره ښه ده چې د رس د خاورې په مخ خلاصو ډډو کوزه سوې ده او ښايي د عرابه لرونکو توپونو د وړلو لپاره عملي لاره وي خو د وسايطو دا وړل بايد د رسيو او کشولو په مرسته تر سره سي. خط الرأس چې اصلي کوتل جوړوي نسبتاً پراخ او د زين په شان ګردی او نرم دی؛ د سړک په دواړو خواوو کې په هغـۀ ځای کې ځای سته چې د کوتل د تاج له سره تـبـربـرې چې نسبتاً نرم او پراخ ځای دی. د سړک په ښي لاس کې (چې د باميانو پر خوا ځي) غرنۍ ډډې د کوتل په دواړو غاړو کې نسبتاً مخ خلاصې دي چې سپور او پلی ځواک دواړه ورباندې په آسانه تللی سي. خاوره ئـې له ډبرو سره ګډه ده. د کوتل د تاج له سره د کوتل ډډې د توپک تر ښـۀ اور لاندې راتلای سي. د شا ته تګ او يا د يوۀ تأخيري

---

[51] -Lalchak
[52] -Bargam
[53] -Kota -i -Ashro
[54] -Nerkh
[55] -Bargam
[56] -Gardan Diwal

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

موقعیت له لرلو پرته که هڅه وسي چې دا کوتل د یوۀ موقعیت په توګه وساتل سي نو په هغـۀ حالت کې اړینه ده چې په سویل کې د «خف زار» [57] کوتل هم باید ونیول سي. د حاجي ګک او د «عراق» د کوتلونو تر منځ کوم مستقیم ارتباط نـۀ سته، ارتباط یوازې شا ته د «خار زار» [58] له لارې کـېـږي او بس چې د عراق د کوتل د سویل ختیځ په ۲۲ مایلۍ کې یو کلی دی. ویل سوي چې د حاجي ګک کوتل د عراق د کوتل په پرتلې ډېـر ټیټ دی، خو د جنوري، فبروري، مارچ او اپریل په میاشتو د حاجي ګک کوتل هم په واوره بند وي. پخوا به عمومي لاره د عراق د کوتل له لارې تـېـریدله خو اوس داسې ښکاري چې د حاجي ګک لاره د عراق د کوتل پر ځای ډېـره کارول کـېـږي. (آی. بي. سي)

* **حاجي غلام رسول چینه**: ۶ ـ ۳۲، ۳۴ ـ ۶۸ «ن»: دا د «وړ» [59] په لویدیځ کې او د «وازې خوا» په سویل ختیځ کې یو کلی دی.

* **حاجي ګل، مینه**: ۵۴ ـ ۳۲، ۱ ـ ۶۹ «ن»: دا د پکتیا په ولایت کې د «اورګون» [60] په سویل لویدیځ کې یو کلی دی.

* **حاجي جانشاه کلی**: ۱۴ ـ ۳۲، ۱۳ ـ ۶۸ «ن»: دا د وازې خو په شمال لویدیځ کې او د «شینکي غرۀ» [61] په سویل ختیځ کې یو کلی دی.

حاجي قلعه: ـ ۳۴، ـ ۶۹: دا په کوهدامن کې د کابل د شمال په تقریباً ۱۳ مایلۍ کې په دیوالونو کې محصور یو کلی دی. استوګن وګړي: تاجیکان او هزاره ګان. دا کلی له کابله د ۳ راغلو سړکونو په منځ کې د تر ټولو وروستي ختیځواله سړک پر غاره لومړی منزل دی. دا ځای په هغې درې کې واقع دی چې د اوبو یو کوچنی بهیر لري او اوبـۀ ئـې له کلي ۲/۱ ـ ۱ مایل ورهاخوا د شمال لور ته بهیـږي او د پنجشیر د سیند د څانګې «قره دشمن» [62] له اوبو سره یو ځای کـېـږي. اړتیا توکي له «قلعـۀ حاجي» څخه تر لاسه کیدای سي؛ څښاک اوبـۀ ئـې پریمانه دي. له «قلعـۀ حاجي» څخه یوه لاره مخ په لویدیځ د َ«قره دشمن» له لارې تر «قلعـۀ مراد بیګ» پورې تللې ده او په دې توګه له کابل څخه تر چاریکارو پورې د دوه وو تللو سرکونو تر منځ ضمني ارتباط جوړوي. همدلته په قلعـۀ حاجي کې ول چې «سر لیپل ګریفن» [63] د «جنرال ګف» [64] له غنډ سره یو ځای کمپ وواهـۀ او له عبدالرحمن سره چې د ۱۸۸۰ز کال د جولای په میاشت کې له تورکستان څخه راورسید ولیدل او د کابل د امیر په توګه نصب سو. (آی. بي. سي)

حاجي قلعه: ـ ۳۴، ـ ۶۹: دا د کابل د لویدیځ په ۷ مایلۍ کې غزني ته د تللي سړک د غاړې په اوږدو یو کلی دی. د کلي ګرد چاپیر سیمه د میوو د ښونو، د باغونو او د پراخو ځنګلونو سیمه ده چې د کابل له سینده د راکیندل سویو نهرونو په اوبو خړوبېـږي.

---

57 -Khafzar Kotal
58 -Kharzar
59 -Wur
60 -Urgun
61 -Shinkai Ghar
62 -Kara Dushman
63 -Sir Lepel Griffin
64 -General Gough

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

* **حاجي خيل**: ۵۹ – ۳۲، ۵۸ – ۶۷ «ن»: دا د مقر- غزني د سړک په ختيځ کې او د «بازگي» [65] په شمال ختيځ کې يو کلی دی.

حاجي مير علی: دا د کابل – چارآسيا د سړک په ختيځ اړخ کې يوه کلا ده چې له بالاحصار څخه ۲۲ مايله ليرې ده. دا کلا مربع ډوله ده او هره ضلع ئې ۶۰ يارډه اوږده ده؛ ديوالونه ئې لوړ دي چې په خپلو گوټونو کې مورچلونه لري. استوگن وگړي ئې قزلباشان دي. (کينيډي)

* **حاجي مقام**: ۱ – ۳۳، ۳۷ – ۶۷ «ن»: دا د غزني په ولايت کې د «سياه دِه» په شمال کې يو کلی دی.

حاجي محمد خان: ۳۹ – ۳۳، ۲۴ – ۶۸ «ج»: دا د غزني د شمال په ۹ مايلۍ کې يو کلی دی چې د بهسود هزاره گانو، وردکو او تاجيکانو ۶۰ کورونه لري. (محمد اکبر خان)

حاجي ملا گلان کلی:

يادونه: قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لينک لاندی د ښاغلی آريا صاحب په آرشيف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دريم ټوک، څلورم ټوک، او د پنځم ټو: ټولي برخي لوستی شئ.

65 -Bazgai

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ